ورځپانه
شریعت
SHARIAT DAILY
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږم کال٥٤مه گڼه پرله پسی (٤٣٣)یکشنبه د١٤٢٢هـ ق جمادی الاول (٤)
د١٣٨٠ هـ ش کال اسد (٣) د٢٠٠١ میلادی کال دجولای (٢٥)

مردم هرات: مازهرات هستیم امااسمٰعیل خان ازما نیست

هرات – شریعت:
ما از هرات هستیم ، لاکن اسمٰعیل خان از مانیست از گفته های صدای حقیقی مردم مجاهد هرات اخیراً خبرنگار روزنامه شریعت از شهرهرات بازگشت نموده است وی ضمن مصاحبه ها نیکه بامردم هرات انجام داده ویاهم چیز ها ئیرا که خود به چشم سر دیده است چنین گزارش میدهد : حاکمیت پنج سال اخیر طالبان درین شهر برای مردم غیور وجهاد پرور هرات باستان نشان داد که آنان قبل از نصرت هرات بدست طالبان نسبت به شهر و امیرشهرشان در بیخبری کامل بسرمیبردند ، همچنان ظلم وجفای راکه امیراسمٰعیل خان درحق آنان روا داشته بود هرگزفراموش مردم هرات نمیگردد . امروز مردوزن هرات همصدا فریاد میکشند که «ما از هرات هستیم لاکن اسمٰعیل خان از مانیست» صرف نظر از ملحوظات سیاسی ، شغل اکثریت مردمان هرات را از دراز مدت بدینسو تجارت تشکیل داده و موجودیت دو بندر گاه عمده تجارتی چون تور غوندی و اسلام قلعه دراین شهر درپهلوی امنیت وآرامش بیسابقه طی پنج سال اخیر دروازه های خوب تجارت و کار و باررابرخ
ص٤

الهی فرمان

ترجمه :ای هغو خلکو چی ایمان یی راوړی ! کله چی دخدای په لارکی ووتی نو پلټنه کوئ اوڅوک چی سوله درته وړاندی کوی هغه ته مه وایی چی ته خو مومن نه یی په دی ډول تاسی ددنیا شیان غواړی – نو له خدای پاک سره خو ډیری ولجی دی ، تاسی هم پخوا دغسی وئ ،بیاخدای پیرزوینه درباندی وکړه نو پلټنه کوی –بی شکه الله خو ستاسی له کارو خبردی – **٩٤ النساء**–

دفواید عامی وزارت معین : دهیواد ټولی لویی لاری په پنځوکلوکی په پاخه ډول جوړیږی

دکابل – جلال آباد دلوی لاری کار په بیړه روان دی

دکندهار- هرات په پنځوس کیلو متره سړک کرږ اچول شوی دی

سږکال په نظر کی لروچی دمیدان – غزنی سړک په پاخه او اساسی ډول جوړکړو

کابل – شریعت :
دفواید عامی معین الحاج مولوی رستم « حنفی» دکابل جلال آباد دلویی لاری په هکله داسی وویل : په پام کی لرو چی دهیواد ټولی لویی لاری په پنځو کلو کی په پاخه او اساسی ډول جوړی کړو ۔
٢مخ

دمحکمو محصولونه نیم په نیمه کم شول

کابل:
دعالیقدر امیرالمومنین له فرمان سره سم په محکمو کی د امارتی بیی او محصول په سلوکی پنځوس کمښت مونډلی دی په محکمو کی
٤مخ

دهرات والی دیونیسف له مشراستاځی سره وکتل

هرات :
دشمال لویدیځ زون تنظیمه رئیس او دهرات والی محترم ملا خیرالله خیرخواه ورمه ورځ مازیګر دیونیسف اداری دهیات له رئیس سره وکتل دباختر اطلاعاتی آژانس خبرراکړ په دی کتنه کی دهرات
٤مخ

دمخابراتو د پست رئیس :

دهیواد په پُستی نرخونوکی کمښت او پر مختیا راغلی ده

کابل -شریعت :
پستی مراسلی په راجستری او عادی توګه استول کیږی دلیږدونی او ویش له امله دپست اداری ته دواړه امانت ګڼل کیږی خو څرنګه چی راجستری شوی مراسلی په ځانګړو پستی فورمو کښی شاملیږی نو اجرتنی دعادی مراسلو په نسبت یو څه زیات دی ۔
٢مخ

اطلاعیه ریاست عمومی نشرات وزارت اطلاعات و کلتور

قراراست عنقریب رساله تحت عنوان (جراید موجوده افغانستان) به چاپ برسد از عموم مسؤلین جراید کشور تقاضا میگردد تا لطفاً در مورد جریده ویا نشریه دست داشته خویش به اداره بیهقی ریاست نشرات معلومات داده تا شامل رساله مذکور گردد ۔

به همکاری شرکت خوشی لوګر

نود فیصد کار پروژه های ریاست ساختمان تکمیل گردیده است

کابل – شریعت :
کارپروژه های جزایرترافیکی وتحکیم سواحل دریای کابل نود فیصد تکمیل گردیده است .
این مطلب را محترم ملانقیب الله نقشبند ی رئیس عمومی کارو ساختمانی شاروالی کابل به خبرنگار ماگفته افزود ، ریاست عمومی کار
ص٤

موسسه خیریه الحرمین با بیجاشده‌گان کمپ های هرات بغلان مساعدت میکند

کابل -شریعت :
به ارزش یکصد وسی هزار والر امریکایی موسسه خیریه الحرمین بامردم افغانستان مساعدت میکند
این مطلب را محترم ناصر بن محمد
ص٤

ازطرف ریاست طب وقایوی

کورسهای مراقبتهای اولیه صحی دایر میگردد

برای ٢٨٠٥٧ فامیل د ولایت کابل تعلیمات صحی صورت گرفته است

کابل – شریعت
در کشور عزیز ما خدمات اجتماعی خصوصاً بخش صحت عامه در اثر جنگهای تنظیمی صدمه دیده و شفاخانه ها ، کلینیک های صحی به ویرانه مبدل گردیده بود .
پس از استقرار امارت اسلامی وظایف زیادی در مقابل پرسونل طبی قرار گرفت تا خرابی های گذشته راترمیم نمایند ، در حالیکه خدمات و کمک های صحی جهانی
ص٢

سیمینار آموزشی کار وامو ر اجتماعی خاتمه یافت

کابل :
سیمینار آموزشی مامورین ریاست عمومی کاروامور اجتماعی دیروز خاتمه یافت ۔
٤ مخ

محترم مولوی عنایت الله آمر عمومی اطفائیهٔ ولایت کابل:

پولیس اطفائیه در پانزده روز هشت واقعه حریق راإطفاً نموده است

بخاطربلندبردن مهارت های مسلکی ،کورسهای قصیرالمدت جریان دارد

کابل -شریعت
اطفائیه در روند زنده گی اجتماعی یك کشوررول بسا ارزنده را دارد زیرا همه افراد جامعه در جریان زنده گی باحوادثی چون آتش سوزی ، غرق شدن در آب، سیلاب بردن و به چاه افتادن مواجه میگردند که نجات از این همه مصیبتها را تنها پرسونل پولیس اطفائیه وسیله میشوند و بس !
این مطلب را محترم مولوی
ص ٢

په څرخی پله محبس کی دسواد دزده کړی کورسونه پیل شول

په محبس کی روغتیایی خدمتونه دمحبس د کلینیک له لاری ترسره کیږی

کابل :
دکابل دڅرخی پله دمحبس دبندیانو لپاره دلیک لوست دزدکړی کورسونه پرون پیل شول ۔
دباختراطلاعاتی آژانس خبرراکړ دلیک لوست دزده کړی کورسونه چی دلیک لوست دزده
٤ مخ



عکس : نمایی از وسایط اطفائیه و لباس ضد حریق پرسونل اطفائیه
عکاسی یوسف

له کندز ، سمنګان او بلخ سره

دپلخمری مخابراتی ارتباط تأمین شو

بغلان :
دبغلان ولایت دمخابراتو ریاست دیوی ریلی دستګاه په فعالولو سره له پلخمری او دسمنګانو ، بلخ او کندز ولایتونو سره دمرکز تیلفونی اړیکی تامین کړیدی دبغلان له ولایت نه دباختر
٤ مخ

دلوګر په التمور کی سخت سیلابونه راووتل

لوګر:
ورمه شپه دهغو سیلاونو له امله چی دلوګر ولایت دالتمور په سیمو کی راووتل دکرنی په سلګونو جریبه ځمکه او سل کورونه
٤ مخ

مخالفوملیشو دعام ولس تشمنی ضبط کړی

کابل :
مخالفو قوماندانانواو ملیشو داحمدشاه مسعود په دستور دپروان اوکاپیسا دولایتونو دبی ګناه خلکو پرخلاف دجبلو ظلمونو او جنایتونو اړخونه پراخ کړیدی او په دی وروستیو وختو کی یی دعامه خلکو هغه زیاته برخه شمښی ضبط کړیدی چی دهیواد
٤ مخ

سرمقاله

دلوی او بښونکی خدای «ج» په نامه

د تجزیی خطرناک پلانونه او زمونږ مسلی ذمه واری

هسی خوله ډیري پخوا د افغانستان د ویشلو پلانونه موجود ؤ خو په تیرو څوکلو کې یې د یو با لفعل خطر په توګه ځان راڅرګند کړ او دا هر چا ته معلومه ده چې په هیواد کې د کمونیزم له سقوط وروسته د افغانانو د بهرنیو دښمنانو په لمسون په دي لړ کې اغیزمن ګامونه واخیستل شول چې دلوی خدای «ج» په فضل په هیواد کې د اسلامی امارت په قیام سره تر ډیره حده دا خطره منتفی او د دې پروګرام زیاتره خارجی او داخلی کار کوونکی ناهیلی شول . خو داچې زمونږ د ښمنان په دې لار کې په ملیاردونو او کروړونو ډالره لګښتونه کړی ؤ نو د خپلو پراخو نظامی ، سیاسی ، اقتصادی او تبلیغاتی مرستو په زور یې
٢ مخ

بوش وارد کوسوواشد

منابع خبری بین المللی -شریعت:
رئیس جمهور امریکا بخاطر ملاقات باسربازان امریکایی مستقر درکوسوا واردپرشتینا گردید، نامبرده دراین سفر سیاست های حکومت خویش را درمورد اروپا وحفظ صلح در بالکان برای سربازان خویش توضیح کرد ، رئیس جمهور امریکا بعدازاین بازدید بهروم میرود گفته میشود هفت هزار سرباز امریکایی درکنار سربازان حافظ صلح درکوسووا مستقر اند ۔

ځنګری ملتونه له مهاجر وسره په ایرانی کړنلاره اندیښمن دی

بهرنی خبری سرچینی :
دملګرو ملتونو دمهاجرو دچارو مامورینو اندیښنه ښکاره کړیده چی دایران دکورنیو چارووزارت په هغه هیواد کی دافغان مهاجر ینو سره بد سلوک کوی په ژینو کی دمهاجرو دچارو کمیشنرپرون ویلی دی چی دمهاجرو داسختی په دی شویده چی ایرانیان فکر کوی چی افغان مهاجر دوی له لاسه کارونه باسی نطاق په دی میاشت کی ددوو پیښو ذکر وکړ چی په هغی کی قهربدلوایرانیانو په ځینو افغان مهاجر وباندی حملی کړی او هغوی
٤ مخ

شریعت

دتأسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش

: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : الحاج ملا اسدالله «حنیفی»

مرستیال : غلام محمد فاروق

دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (١٠٠٠) افغانۍ په پاکستان کې (٣) کلداری

تیـلـفـون : ٢١٣٨١ توزیع او شکایات :٦٢٨٥٩

پست بکس : (٤٧١) کابل افغانستان

جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

وکولای شول د ګران هیواد په یوګوټ کې تجزیه غوښتونکو نوکرو ډلو ته یوځه عمر او دوام ورکړی چې بالاخره د جګړې په اوږدیدلو سره یوځل بیا دغو عناصرو ته د هیواد د تجزیې په هکله د نوی سوچ موقع برابره شوه او همدا وجه ده چې دځینو مطبوعاتو د ریپوټونو په اساس د دې موضوع څیړلو لپاره په «دوشنبه» کې له سلا مشورې وروسته نوې پریکړې شوی او زموږ د داخلی باغی جبهې په شمول د روسیې، هند، ایران او ځینو لویدیځو هیوادو له خوا یې بشپړ ملاتړ شوی چې په دې وروستیو کې احمد شاه مسعود ته د نویو پوځی مرستو را رسیدل د همدې پلان یوه کړی ده.

ضمناً باید څرګنده کړو چې زموږ دښمنانو دهمدې مقصد لپاره په هیواد کې د قومی، ژبنی او مذهبی اختلافاتو را پارولو یو خطرناک اوربل کړ او له هرې خوا یې تیل پرې وشیندل چې دا لړی اوس هم روانه او بوازنی موخه یې همدغه د افغانستان ټوټه ټوټه کول دی. له بلې خوا په هیواد کې د اسلامی امارت په قیام سره د تجزیې ارمانجن په سخته ویره کې لویدلی او دایې محسوسه کړې چې یوه ورځ به خامخا له ټول هیواد نه د «امارت» حلقه را تاویږی او دافغانانو خاوره به د یو موټی، خپلواک او مستحکم هیواد په توګه راڅرګندیږی چې دا خبره هغوی ته په هیڅ صورت د زغم وړ نه ده. یو شمیر پردی پاله او هیواد پلورونکی افغانان هم د خپلو شومو اغراضو لپاره په دې کار کې هلې ځلې کوی او لګیا دی د خپلې تباهی پلانونه جوړوی.

له بده مرغه زموږ یو شمیر پوهان او روښان فکره شخصیتونه هم چندان د خپل هیواد ملی ګټې په پام کې نه نیسی، که هر څومره په ربو سترګو داخطر وینی بیا هم څه اغیزمن ګام نه اخلی. دوی نه په داخل کې دنوکرو ډلو خواب وایی او نه بهرنیو مغرضینو باندې زوږور غږ کولای شی. تر دې چې د هیواد په څمکنی بشپړتیا کې د اسلامی امارت بی ساری قربانی هم په واضحو ټکو نه شی تأییدولای خو په هرصورت بیا هم ټول افغانان له خپل هیواد نه دفاع کولو، خپلواکی ساتلو او سولی ثبات را وستلو کې لوی مسئولیت او ستره ذمه واری لری او هرخواخوږی افغان باید د هیواد د تجزیی په شان لوی خطر په مقابل کې مؤثر ګامونه واخلی او خپل ټول شخصی تمایلات او ذوقی اختلافات شاته وغورځوی.

د افغانستان اسلامی امارت ټول افغان ولس د هیوادد د ښمنانو خطرناکو پلانونو په مقابل کې یو موټی کیدلو او بیدار اوسیدلو ته را بولی او یوځل بیا مغرضو هیوادو ته خبرداری ورکوی چې انشاء الله د تیرو په شان به یې اوسنی هلې ځلې هم له خاورو سره خاورې او بوازې د پښیمانۍ او حسرت ذریعه وګرځی.

داسلامی نړۍ طبابت ته لنډه کتنه ١٢

په منځنۍ اسیا کې داسلام له ظهوره وروسته دطبابت خصوصیات

دطب او طبابت لیوال کسان معمولاً تنکی ځوانان وو چې په تحصیل بوختیدل لکه ابن سینا چې په یوولس کلنی کی دطبابت تحصیل شروع کړ. دوی به ترجیح ورکوله چې له خپلو خپلوانو لکه پلار، کاکا، ماما او داسی نورو طب زده کړی، معمولاً اصیل زادګانو طبابت لاره غوره کوله تر څو د خلفاو، شاهانو او لوړ رتبه افسرانو او مامورینو په خدمت کی وګمارل شی د شاه په دربار کی به یی زیده طبیب ته حکیم باشی ویل او نورو طبیبانو به دده تر لاس لاندی کار کاوه. دحکیم باشی دنده ډیره خطرناکه هم وه او دلږی اشتباه سره دمختلفو جزاګانو لکه عزل، دمالونو مصادره حتی داعدام وړ ګرځیدل.

دطب محصلینو دطبابت په څنګ کی یو لړ نور مضامین هم لوستل لکه هندسه تر څو دټپونو اشکال وپیژنی داځکه چې ګرد دایروی «زخمونه نظر وکشیر الاضلاع ټپونونه زرنه جوړیږی. همدارنګه دستوری پیژندلو مضمون ددی دپاره لوستل کیده چی دمعالجی مناسب ساعتونه کشف کړی او دموسیقی سره باید هم آشنا وی تر څو دناروغ نبض په دقیقه توګه ونیسی او دهغه له حرکاتو په ناروغی باندی پوه شی. ښوډ کړی ډیره مهمه برخه په روغتون کی پر مخ بیول کیده او دجراحی محصیلونو دلایقو جراحانو لاس لاندی کار کاوه. همدارنګه محصلینو دناروغانو لیدنه کتنه کوله او لکه نن ورځ د ناروغ د تشخیص او تداوی په برخه کی یی بحثونه سره کول د تدریس د میتود په هکله باید وویل شی چی هر استاد ځانګړی خصوصیات درلودل د مثال په توګه رازی معمولاً وخیم، مغلق او شدید ناروغان دتدریس لپاره انتخابول، لومړی به تازه کارو ځوانانو او وروسته په پخوانیو شاګردانو نظر نی ورکولی او که دوارړه به ئی له عهدې نشو وتلای نو رازی به خپل نظر وراندې کاوه.

په هغه زمانه کی مشهور درسی کتابونه دسقراط، رازی او حنین مسایل ؤ.

په دویم کال کی دثابت بن قره ذخیره، د رازی المنصوری کتاب او دسید اسمٰعیل جرجانی ذخیره به یی لوستل. همدارنګه دخپلو معلوماتو د لوړلو په خاطر د جالینوس ستة عشر، د رازی حاوی، الملکی د علی بن عباس الهوازی، سل بابه دابو سهل، قانون دابن سینا او ذخیره خوارزم شاهی به ئی مطالعه کوله په ټولو کتابونو کی لومړی قانون او بیا د خوارزم شاهی ذخیری شهرت درلود او د محصلینو به خوښیدله.

دمحصلینو دآزموینی په هکله چې باید طب کی شامل شي معلومات نشته خو په ٩١٣ م کال کی

پوهاند عبدالحی مؤمنی

خلیفه یو فرمان صادر کړ او قاضی القضات ته یی دستور ورکړ:

هر څوک چی طبابت کوی باید سنان بن ثابت بن قره له خوا ورنه آزموینه واخستله شی. پدی توګه په یو کال ٨٦٠ تنه په بغداد کی بریالی ووتل.

په هغه زمانه کی تخصص مشخص نه ؤ خو یو لړ طبیبانو د ځینو مرضونو په تداوی کی خاص شهرت پیدا کړی ؤ.

دجراحانو تعداد لږ ؤ او ددوی د نامه په سر کی به د «استاد» کلیمه اضافه کیده، جراحانو باید دجالینوس دتشریح او ګوتی کتابونه زده وای. په اوږتوپیدی کی بهئی دګناش دکتاب آزموینه اخیستل کیده.

دجراحانو سامان آلات عبارت ؤ له یوه منحنی چاکو، یو مستقیم چاکو، یو نشتر، یوه اره دهډوکو دپری کولو په خاطر، دغوږ دپاکولو میله او مخصوص چاکو دمثانی دخلاصولو لپاره همدارنګه دپانسمان لوازم، مرهمونه او دوی هم پکی شاملی وی. دسترګو د طبیبانو ازموینه مشکله وه د رنځو دجوړولو طریقه نی باید زده وای.

یو لړ طبیبانو چی دمشرانو کورنیو دطبیب په توګه کار کاوه دهغه داولادونو دلالانی وظیفه نی هم په غاړه اخیستله.

رګ وهونکی هم دطبیبانو په جمله کی شامل وو. مګر اجتماعی منزلت نی نه درلوده. څرنګه چې دهغوی قیس کم ؤ نو د سلمانی کار به نی هم کاوه. هغوی هم دانا تومی په برخه کی باید معلومات درلوډلای تر څو عضلی او سطحی رګونه بنه وپیژنی. درګ وهلو طریقه او دهغه سامان سره به ښه آشنا ؤ. دوی به خلکو ته درمل هم ورکول او واړه جراحی عملیات نه به نی هم کول. دغابیرابستل ددوی کارنه بلکی دطبیبانو او جراحانو کار ؤ مګر وروسته دا وظیفه هم دوی په غاړه واخیستله. پاتې لري

کورسهای مراقبتهای اولیه ...

در کشور اندك است با انهم پرسونل صحی و خصوصاً ریاست طب وقایوی خو د را مکلف میداند تا با این همه داشته های اندك مصدر خدمات ارزنده برای مردم گردد.

به همین منظور خبرنګار روزنامه شریعت صحبتی داشت با محترم طبیب آقا ګل رئیس طب وقایوی که ذیلاً تقدیم خوانندہ ګان میګردد.

ریاست طب وقایوی بخاطر خدمت بهتر و بیشتر به هموطنان کشور به کمك مالی و تخنیکی موٴسسات خیریه خارجی و موٴسسه W.H.O دو کورس بلند بردن مهارت های مسلکی را دایر نموده که در هر کورس ٣٠ نفر طبیبان از صحت عامه های مرکز وولایات اشتراك ورزیده همچنان چهار کورس مراقبتهای اولیه صحی برای ولسوالی های پغمان، نرخ، میدان و چهار آسیاب دایر نموده که از هر ولسوالی پنج نفر افراد فنی و مسلکی اشتراك داشتند، بر علاوه آن به همکاری مستقیم سازمان صحی جهان کورس مراقبت های اولیه صحی در خود محل برای مدت بیست یوم دایر ګردیده بود که نتایج مثبت از ان بدست آمده است، ریاست طب وقایوی بخاطر وقایه اطفال از امراض کشنده دوره طفولیت از طریق ١٩٠ شعبه واکسیناسیون در ولایات مختلفه به تعداد ٦٣٨٩٤٣ تن طفل را واکسین نموده ودر پهلوی ان ٢١٠٥٧ تن مادران را درمقابل مرض تیتانوس واکسین نموده است. بخاطر حفظ صحت هموطنان به تعداد ٨٣٥١ حلقه چاه آب که از آن حدود ٩٨٥٩٠٦ نفر استفاده میکنند کلوریشن نموده همچنان برای ٢٨٠٧٥ فامیل مسکون درولایت کابل به کمك موسسه محترم هبیتات وپاملرنه از طریق پرسونل تبلیغاتی تعلمیات صحی صورت ګرفته باید خاطر نشان ګردد که دربخش حمایه طفل ومادر ریاست طب وقایوی ٢١٣٧٥٠ مریض را دربخش کلینیك های طفل ومادر معائینه وتداوی نموده است.

حمیدالله

پولیس اطفائیه در پانزده روز...

عنایت الله آمر عمومی اطفائیه ولایت کابل به خبر نګار ګفته افزود همانګونه که زنده ګی وزنده ماندن برای شخص مهم و عزیز است به همان پیمانه پرسونل اطفائیه خودرا به آتش انداخته و زنده ګی انسانهای در ګیر آتش و آب را نجات میدهند، که مصداق ګفته ماه فعالیت های سه ما اخیر اطفائیه قوماندانی امنیه ولایت کابل است.

پرسونل اطفائیه ولایت کابل باداشتن هشت عراده وسایط اطفأ حریق دردویونت یعنی یونت مرکزی و یونت خیرخانه مینه ٢٤ ساعت در خدمت همشهریان قرار داشته که تنها طی پانزده روز هشت واقعه حریق را خاموش ساخته ایم.

آمریت اطفائیه کابل در طی ربع اول ،نزده واقعه حایق را خاموش ساخته که الحمد الله تلفات جانی به بارنیاور ده بود. همچنان پنج واقعه به چاه افتیده ګی را ثبت نموده که متأسفانه نسبت رسیدن اطلاع تاوقت از محل حادثه سه تن آن ها جانهای خویش را از دست داده بودند.

دلخراش ترین واقعه حریق که توسط پرسونل اطفائیه خاموش ګردید حریق یك موتر کاماز که مملو از تکه، چای و بوره بود در ساحه پلچرخی کابل که به کمك پرسونل اطفائیه هشتاد فیصد مال تاجر ا ز حریق نجات داده شد.

آمریت اطفائیه ولایت کابل بر علاوه خدمات انسانی ای را که انجام داده در هر برج کورسهای مسلکی کوتاه مدت را دایر نموده واشخاص جدید الشمول را تربیه مسلکی میدهند.

محترم مولوی عنایت الله در جواب پرسشی که آیا در اثنای عملیات کدام پرسونل شما از بین رفته و یا زخمی شده اند ګفت: در سال ١٤٢١ دریك عملیات اطفائیه در ساحه تپه مرنجان شش تن افراد مسلکی خویش را از دست دادیم، چون پرسونل اطفائیه بخاطر نجات جان ومال هموطنان خود را درآتش می اندازند و آنها را نجات میدهند که اینسرسپرده ګی خالی ازصدمات جانی برای خو دپرسونل نیست بناً ما از مقامات محترم امارتی خصوصاً از وزارت محترم امور داخله وموسسات خیریه خارجی تقاضا داریم، همانګونه که بخاطر آرامی وآسایش مردم کارو فعالیت میکنند، اداره اطفائیه را نیز کمك و یاری برسانند زیرا اګر پرسونل شاروالی نباشد هموطنان میتواند خود ساحه و شهر خویشرا پاك نمایند اما اګر خدا نخواسته حریقی پیش آید بدون فعالیت اطفائیه مشکل است حریق اطفأ ګردد ضمناً از هموطنان عزیز خویش تقاضا داریم تا در صورت بروز حوادث آتش سوزی و یا به چاه افتیدن هر چه زود تر به تیلفونهای شماره ٢٠١٢١، ٢٠١٢٢ و ٢٠١٢٣ اطفائیه مرکز و تیلفون شماره ٧١٤٠٠ اطفائیه خیرخانه مینه اطلاع دهند.

آصف عبدالله

دهیواد په پستی خدماتو...

په داخلی سرویس کښې تر شل ګرامه دیو عادی لیک اجرت (٢٠٠٠) افغانی ده او که راجستر شی نو بیا ئې اجرت ٤٠٠٠ افغانی شی دغه راز په خارجی سرویس کښې لومړی حوزی ته دیو عادی لیک اجرت ١٨٥٠٠ که راجستر شی بیا ١٨١٥٠٠ افغانی اجرت اخیستل کیږی.

څرنګه چې پستی خدمتونه دخلکو دلومړنیو اړتیا وڅخه شمیرل کیږی او له بلې خوا زموږ هیواد وال په ټوله نړی کې دمهاجرت شپې او ورځې سبا کوی نو دیوی مراسلی د لیږدولو اجرت که مناسبه بیه ولری او دخلکو دمالی توان سره برابره وی زیات خلک به لیکونه واستوی نو هیله ده اوس چې د خارجی پست دلیکونو او کوچنیو پستو اجرتونه ټیټ شویدی زموږ پستی راتیوونکی به په زیاته پیمانه دخپل پستی سرویس څخه ګټه واخلی او لیکونه به دخپلو مقصدونو په لور واستوی دپښت اداره او پستی کارکوونکی په پوره صداقت تیاره دي چې دخپلو خلکو هرراز پستی خدمتونه په مطمئن ډول او چټکه توګه تر سره کړی.

دبین المللی پست دلیکونو او کوچنیو بستو داجرتونو تنزیل د ربیع الاخر دشلمی نیټی څخه را پدی خواعملی شوی او هره ورځ په سل ګونو مشتریان دهیواد دپسته خانو دپستی کړکیو له لاری لیکونه استوی او دپستی نرخونو دتنزیل په نسبت راضی دی. موږ پنځه کاله مخکی ډیر محدودی پستی اړیکی لرلی پستی تجهیزات، دلیږدولو وسایل مو هم نه لرل او UPU تر اوسه له موږه سره کومه مرسته نه ده کړی یوازې د ا.ا.ا دځانګړو پاملرنو له امله اوس په ټول افغانستان کښی مرکزی پسته خانی فعالیت لری په پستی تجهیزاتو سمبالی شوی او تر نیمائی زیات دولسوالیو پستی نظام هم فعال شوی دپاتی ولسوالیو دپستی نظام دفعالولو کار په بیړه روان دی.

دا.ا.ا. دمرستو په لړ کی دبایسکلونو، موټرسایکل، د پسته رسونکو یونیفورم دغه راز دپستی کارکوونکو اضافه کاری او دپستی کڅوړو او نورو پستی تجهیزاتو لکه پستی تلی او مهرونه په زیاته اندازه تهیه شویدی.

محمد رفیق «عزت»

دهیواد ټولی لویی لاری ...

ده وویل: دکابل جلال آباد دلویی لاری جوړلو کار چی تر اوسه څلورنیم کیلو متره پوخ شوی لګښت یی ملی سوداګرو په غاړه اخیستی خو پدی کی ٧٠٠ ټنه قیر پاکستان او زر ټنه قیر دوفاخیر به موسسی لخوا هم مرسته شویدی اوس کار شپه اورځ په بیړه روان دی خو د هوا دګرمی دوسایلو کمی او هم دورانو پلونو موجودیت موثر ته یو لړ مشکلات جوړ کړیدی.

محترم حنفی زیاته کړه دفواید عامی وزارت له ډیرو ستونزو او وسایلو او ماشین الاتو له کمښت سره سره په تیر کال کی د ٢٢٠ کارګرانو، انجینرانو او ٣٥ لبیر دوونکو وسائلو په درلودلو سره په کار پیل وکړچی د ٣٢ کیلو مترو په شاوخواکی دکابل او کندهار سړک به پاخه او اساسی ډول جوړ او په روان کال کی انشاء الله په نظر کی لرو چی دمیدان ښارته تر غزنی پوری له ٥٠ – ٦٠ کیلو مترو پوری سړک به پاخه او اساسی ډول جوړ کړو.

نوموړی زیاته کړه دفواید عامی وزارت په هڅو او هاند سره دهرات او کندهارد لویی لاری کار هم په بیړه روان دی چی تر اوسه پوری ٥٠ کیلومتره سړک په پاخه او اساسی ډول جوړ شوی دی.

نوموړی داخبره هم وکړه چی ددغو پروژو لګښت په تیرو ٢ کلونو کی دحق العبور نه په لاس راغلی دی چی دقیق حساب یی ټول نشو ویلای. همدارنګه ١٩، ١٩ ملیارده افغانی دپرزو، تیلو او دموټرو جوړولو لپاره دافغانستان اسلامی امارت له بانګی نه مصرف شوی دی

«عالمی»

روغتیا او تولنه

د قلندري په زيار

راه های مصئون ماندن از خطر گرمی شدید

طبیبان میگویند برای مصئون ماندن از خطر گرمی شدید تدابیر زیادی را میتوان اتخاذ کرد ، مثلاً در صورت امکان از معروض شدن به آفتاب خود داری کنید ، مقادیر زیاد آب سرد بنوشید و البسه کلان و دارای رنگهای روشن و سبک را به تن نمائید و دیگر اینکه به علایم مختلف گرما زده گی خود را آشنا ساخته. شخصیکه مبتلا به گرما زده گی باشد احساس ضعف و خستگی زیاد میکند و شاید در راه رفتن احساس مشکلات نماید . گرما زده گی باعث ضربان سریع قلب و تولید مشکلات تنفسی سر دردی و درد در ناحیه صدر میشود .

طبیبان میگویند مردمی که چنین عوارض را احساس کنند باید به محل سرد پناه ببرند و آب بنوشند ، گرما زده گی به سرعت انکشاف می یابد ولي شاید نیز در ظرف چندین روز به آهستگی پیداشود ، اگر انسان روزانه در گرمی کمتر آب بنوشد و آبیکه از بدن ضایع میشود بیشتر باشد در ظرف چند روز باعث تولید همان عوارض میشود که گرما زده گی شدید تولید میکند ، علاج این نوع گرما زده گی هم استراحت دریک محل سرد و نوشیدن آب زیاد است .

طبیبان میگویند اگر حرارت بدن از چهل ودو درجه بلند تر برود اعضای داخلی بدن او رو به تخریب نهاده و منجر به رسیدن صدمه دائمی به مغز شده اکثراً باعث مرگ میگردد .

بسیاری مردم در اثر فشار وشدت گرمی مبتلاً به درد عضلات میشوند که این خود یک اخطار است که بدن بیش از اندازه گرم شده است .

طبیبان میگویند نوشیدن آب کافی بایک مقدار نمک درد را زایل میکند و اگر شخصی دارای تکلیف قلبی و یا ضعیف باشد یا از فشار خون وغیره مشکلات دوران خون رنج ببرد فشار گرمی برایش خیلی خطرناک است که این خود باعث حمله قلبی و یا سکته مغزی میشود

گرمی شدید برای اطفال کوچک و افراد مسن و اشخاصیکه از مرض شکر رنج میبرند و اشخاص چاق نیز باعث مشکلات میگردد .

عرق کردن یکی از طرق دفاعی بدن در مقابل گرمی است ، متخصصین میگویند که در بدن آب بنا بر دلایل صحی مهم میباشد و نوشابه های شیرین ، چای وقهوه نمی تواند به زودی در بدن جذب شوند فلهذا بهترین چیز نوشیدن آب سرد و جلوگیری از پرخوری وغذای های سنگین است .

درانـــــــــی

نو شیدن آب براي تأمین صحت

طبیبان معتقدند که نوشیدن شش تا هشت گیلاس آب در روز براي سلامتي بدن انسان مفید است. محققان به دنبال دلایل علمي این عقیده بودند اخیراً در مطالعه، در پوهنتون ایوا گروهي از افراد مسن مورد آزمایش وادار شدند تا آب وسایر نوشیدني هاي بیشتري را بنوشند هدف تعین این مسأله بود که آیا افزایش نوشیدن آب وآب میوه باعث بهبود توانایي ذهني مي شود یانه؟

افراد مسن بطور طبیعي به علت کاهش احساس تشنگي آب کمتري مي نوشند زیرا التهاب مفاصل و پوکي استخوان افراد پیرهم دسترسي آنها را به آب زیاد مشکل مي سازد . «ا.م»

گریانک ها به حمله قلبي مبتلا نمي شوند

گریستن یکي از عملیات تندرستي است که بشر باید جلو اشکهاي خود را باز گذاشته و از ریختن آن خودداري نورزد . این عقیده دانشمندان علم طب است و شما شاید نمي دانستید که گریه کردن هم فایده دارد .

قبلاً کسانیکه گریه مي کردند آنها را مردم گریانک مي نامیدند . حالا دانشمندان معاصر معتقد اند که بشر خسته و ناراحت امروزي اگر گاهي گریان کند و اشکش جاري شود عمر بیشتر خواهد داشت .

به عقیده دانشمندان از فواید طبي گریان یکي این است که زمان شادي اشک چشم ها را مي شوید و از عفونت محفوظ مي دارد و گریه هنگام رنج وغم و اندوه مجاري بیني را مي شوید و از عفونت محفوظ میدارد و بقول دانشمندان اشکي که در موقع پوست کردن پیاز جاري میگردد با آن اشکي که هنگام درد و رنج از چشم مي ریزد فرق دارد لهذا فواید روحي گریان بیشمار است. «امین»

که غواړئ چې روغ غاښونه ولرئ

که غواړئ چې روغ غاښونه ولرئ لاندېني ټکي په پام کې ونيسئ :

١- زړي لکه پسته ، بادام ، چارمغز او نور کلک شيان په غاښونو مه ماتوئ .

٢- لږ تر لږه د ورځې دوه ځله يعنې سهار له چاي خوړلو دمخه او دشپې له پلوه له ډوډۍ خوړلو وروسته او يا له ويده کېدو د مخه خپل غاښونه پرمنځئ .

٣- د خوږو له خوړلو وروسته خپل غاښونه پرمنځئ ځکه د غاښونو د چنجن کېدو يو علت هم همدغه د خوږو خوړل دي او دا ځکه چې خوږه خوړل په خوله کې د اسيدو يا تېزابو د توليد سبب ګرځي او په نتيجه کې د غاښونو مينا له منځه ځي .

٤- د خولې د تېزابو د له منځه وړلو لپاره خوله په اوبو پرمنځئ تر څو نو موړي تېزاب خنثي شي .

٥- که چېرې په غاښونو کې ډېر کوچني داغ وويني ډېر ژر طبيب ته لاړ شئ . سرسري يې مه ګڼئ او درملنه يې وکړئ .

٦- غاښونه کلسيمو ته اړتيا لري او د ترلاسه کولو لپاره يې بايد کلسيم لرونکي ميوې وخوړل شي . هغه ميوه چې زيات کلسيم لري مڼه ده او خوړل يې د ماشومانو او اميدوارو ميرمنو لپاره خورا ګټور او اړين دي .

قلندري

دويني دلوړ فشار مخنيوى

دويني دلوړفشار دمخنيوي له پاره بايد په مره ګېډه له ډوډي خوړلو او له زياتو بدني او فکري کارونو څخه په ډډي کولو سره له بي خوبي او په ورزش او جنسي عملياتو کي له افراط څخه ځان وژغوري .

سخت هضمه خواړه او زيات چاي څښل هم دويني فشار لوړوي بايد ووېل شي هغه کسان چې په ارثي توګه دويني په لوړفشار اخته دي بايد دنورو په پرتله پورتني روغتيا يي ټکي په کلکه په پام کي ونيسي او په ټينګار سره هغه رعايت کړي که نه نوخامخا به دماغزو او يا دزړه له سکتي او دريدا سره مخامخ شي .

ق . ر

آيا دچرګې هګۍ زيان لري ؟

يو پوه وايي د چرګې هګۍ د زړه يوي کوچني ته ورته ده : خو داسي بيکاري دغه ټکي سم نه وي .

د چرګې هګۍ يوازې هغه وخت زيان لري چې په خوړلو کي يې افراط وشي او يا له غوړېدو خوړو سره يوځاي وخوړل شي .

که چېري په اوني کې دوه هګۍ وخورئ نه يوازې زيان نه لري بلکي آن د بنې پياوړتيا سبب ګرځي .

« ق . صـــــــبـــــور »

آيا کولاي شو له نشه يي توکو لاس په سر شو ؟

بي له شکه د نشه يي توکو استعمال ډېر ستر آفت دي .

دغه شيطاني ناوړه سوغات چې له اروپا راغلي د روغتيا ستر دښمن او له همدې کبله بايد له هغو سره سخته مبارزه وکړو .

د دي لپاره چي دهغو له شره خلاص شو بايد په ټينګي ارادي سره بي له استعمالولو لاس واخيستل شي ، ټينګه اراده د دي سبب ګرځي چې دکومي عارضي له پيدا کېدو پرته خپل هدف ته ورسيږو .

« صـــــــادق »

نمکهای که کم خوني و ناراحتی های صحی را برطرف میسازد

دانشمندان در تلاش آنند که یکنوع نمک آمیخته به آهن (یود) را در نقاط مختلف جهان در دسترس مصرف کنندگان آن قرار دهند تا کمبود این ماده را که ناشي از نقص تصفیه نمک است برطرف سازد مصرف این نوع نمک کم خوني و سایر ناراحتي هاي ناشي از کمبود آهن یود را جبران خواهد کرد.

کم خوني ناشي از کمبود آهن بد ترین نوع کم خوني است و بیش از دوملیارد نفر از نفوس جهان د چار آن هستند . پائین بودن مقدار آهن در خون به سبب نقص تغذیه است و مي تواند در قواي یادگیري کودکان تاثیر بسیار نا مطلوبي داشته باشد . زنان حامله و کودکان خرد سال در برابر این نوع کم خوني بسیار آسیب پذیر اند به طوري که فعلاً سالانه بیش از دوصدو پنجاه هزار زن به علت کم خوني در هنگام ولادت مي میرند . از سوي دیگر کمبود (یود) یکي از مشکلات تغذیه است و مي تواند موجب بروز نا توانائي شدید عقلي، سقط جنین و مرده به دنیا آمدن نوزاد گردد .

مدیر اجرائیه مرکز تحقیقات تغذیه در کانادا مي گوید که نمک آمیخته با آهن (یود) در اکثر نقاط جهان بدسترس مصرف کنندگان آن قرار داده مي شود تا مشکل وکمبود غذایي آنها را برطرف سازد

هــــمــــکــــار

په پښتو شعر کې مذهبي څرګونه

دثبات لټکنه او څېړنه

١٧

کوم مقدرات چې انسان ته په لوح محفوظ کې نقش وي او لوی خدای د ازلي برخې په توګه ورته ټاکلی وي ، انسان د هغې په بدلولو کې کاملاً بیچاره اوناتوان دی او د قیامت تر ورځې پورې د ده سرنوشت (برخلیک) په خپل حال پاتې او انسان د هغه په مقتضی ژوند او عمل کوی .

خوشحال خان خټک د بنی آدم د دې ټول برخلیک په هکله وایی :

چې یې برخه ازلی راغله اصیله
دا خلک یې همیشه ګرځی په سیله
چې عزیز یې خپل فضل و په کرم کړل
چار به نه شی د هغو چیری ذلیله
چې په خپله یې عطا په خلقو نه کا
د هر مال بخره به واخلی له بخیله
د حاتم په مسند ناست هغه زلمی دی
چې دنیا یې پرهرچا باندی سبیله
د عارف په بخره علم لرنی دی
په «الست» روزی شوی بی تحصیله
چې یې واړه «امنا وصدقنا» کړه
د دانا وینا به نه وی بی تاویله
ددې دور درویشان ، خلیفه بس دی
اوس خپل ځان سره بل کار کړه عزرائیله
که کامل دی په جهان هغه کسان دی
چې فارغ دی د دنیا له قال وقیله
عالمان دی رهزنان ، چې غواړی نغاړی
عام عالم سره زده کړی څو دلیله
دا جاهل شیخان ، شیخان نه دی شیطان دی
چې فساد یې پیدا کیږی له تهلیله
پورتنی اثر ، (٢٣٤مخ)

د خوشحال خټک د پورتنی شعر محتوا چې ټوله د فقهی په اصولو بنا ده دوه ټکی پکی هغه مفهوم افاده کوی چې د قرانی آیتونو څخه متجلا شوی دی او هغه دا چې د ازلی برخی له مخی عزت او ذلت د لوی خدای «بیدک الخیر» پوری تعلق لری او هیڅ انسانی او ملکوتی اراده پکی دخالت درلودلای نه شی .

او بل مفهوم د انسان د روزی بندل او ویشنه د انسانانو په منځ کې ده ، او عام متل دی چې بنی آدم په خپلې آب و دانې پسې ګرځی ، او د قران عظیم ارشاد هم دغسی « ما ستاسی په منځ کې ستاسی معیشت وویشه »

له دې ځایه بی له شکه او تردید حکم دی چې دخدای مقدرات ازلی او د انسان له ارادې خارج دی .

دا دخالق تعالی حکمت او قدرت دی چې انسان یې لومړی له عدم نه موجود کړ یعنی د مور د خېټې له دنیا څخه یې دنیا ته ژوندی راوړ او بیایې له دې موجودیت څخه بیرته د عدم جهان ته بیایی ، نو په منطقی استدلال دنیا بقا نه لری او دار الفنا ورته ویل کیږی دا دار الفنا د دارالبقا یو مزرعه او کرونده ده ، هرڅه چې پکې کری د هغو حاصلات به په دارالبقا کې اخلی بنی ادم خود مختاره دی چې په دې کرونده کی څو ځان کری که میوی او ګټوری دانی .

خوشحال خان خټک په ډیر خلص دول پورتنی مطالبو ته د خپل یو شعر په دوو بیتونو کی داسی تجسم ورکوی :

ای چې اصل دې یوه قطره منی ده
په دا هسی رنګ وجود دې څه منی ده
راشه زړه ور پوری مه تړه نادانه
که یې ګورې دا فانی دنیا دنی ده
(پورتنی اثر ، ٢٥٦ مخ)

پاتی لري

اعلانات

ریاست عمومي دارالایتام براي شستشوي یازده قلم البسه جات اطفال شامل لیلیه هاي خویش به قرار دادي خشکه شوئي ضرورت دارد .

اشخاص و موسساتیکه خواهش قرارداد آنرا داشته باشند جواز کار ودرخواست هاي خویشرا بمدیریت خدمات ریاست عمومي دارالایتام واقع تهیه مسکن بسپارند و خود شان از تاریخ ٤-٥-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند دوفیصد تضمین اخذ میگردد .

***

شرکت شیریني وبسکیت سازي محبت به اطلاع سه تن شرکاي خویش هریك ابراهیم فرزند حاجي فتح محمد ، اسحق فرزند حاجي فتح محمد و مصطفي فرزند حاجي فتح محمد میرساند تا جهت تصفیه حسابات خویش از تاریخ ٤-٥-١٤٢٢ تا ده روز بشرکت شیریني و بسکیت سازي محبت حاضر شوند در غیر آن توسط چهار تن سهمداران متباقي شرکت واگذاري میشود و آنگاه حق شکایت را نخواهند داشت .

و همچنان اشخاص و موسساتیکه در رابطه به شرکت متذکره ادعا داشته باشند از تاریخ ٤-٥-١٤٢٢ تا ده روز بـه اداره مرکزي تشویق و انکشاف سرمایه گذاري خصوصي حاضر شوند در غیر آن مسئولیت متوجه خود ایشان است .

***

ریاست تصدي تدویر و مراقبت مکروریانها یك باب خبازي جوار بلاك ٢٣ مکروریان اول ، تعمیر کودکستان مکروریان اول و دو باب گاراژ هاي مقابل ملي بس را به کرایه میدهد .

اشخاص و موسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواستهاي خویشرا بمدیریت اسناد و ارتباط ریاست تدویر و مراقبت مکروریانها واقع بلاك ٢٣ مکروریان اول و دوم بسپارند و خود شان از تاریخ ٤-٥-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

ریاست تدویر ومراقبت مکروریانها تعداد چهار باب دکان واقع چوك (بین) پروژه تهیه مسکن را طور قرارداد به کرایه میدهد .

اشخاص و موسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواست هاي خویشرا بمدیریت اسناد و ارتباط ریاست تدویر و مراقبت مکروریانها واقع بلاك ٢٣ مکروریان اول بسپارند و خود شان از تاریخ ٤-٥-١٤٢٢ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

ریاست عمومي مطالعه ونقشه برداري زمین دو عراده موتر هاي مورد ضرورت خویشرا طور ذیل از بازار نرخ گرفته است.

موتر لنډکروزر ١٩٩٠ دو دروازه یی را به مبلغ سه صدوشصت وسه ملیون افغاني ، موتر فلانکوچ ١٩٩٠ کمك دار رابه مبلغ دوصدوبیست ویك ملیون افغاني .

مناقصه کننده گان درخواست هاي خویشرا به آمریت خدمات ریاست مطالعه و نقشه برداري زمین واقع پشتونستان وات بسپارند وخود شان از تاریخ ٤-٥-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند .

***

لیاقت علي فرزند سیدالرحمن سنگ تلك معدن ماما خیل ولایت ننگرهار را فی تن مبلغ ٢٩. ٨ دالرامریکائي براي مدت یکسال قرارداد مینماید.

مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرا بریاست تصدي استخراج معادن بسپارند وخود شان از تاریخ ٤-٥-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

محمد محسن فرزند معصوم خان مالك (مکروریان درملتون کابل) ، درملتون ملکیت خویشرا به اسمی (محسن درملتون کابل) تغییر نام میدهد .

اشخاص و موسساتیکه در مورد درملتون مذکورادعاداشته باشند مسبوق باشند.

***

رحمت الله فرزند لباس الدین و زین العابدین فرزند جمعه الدین معادن گل سفید للندر و معدن اول خیل ولایت میدان را سالانه به مبلغ ده ملیون و دوصد هزار افغاني قرارداد مینماید.

مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرا بریاست تصدي استخراج معادن بسپارند وخود شان از تاریخ ٤-٥-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد

***

یك درېند حویلي ملکیت نسرین بنت محمدالله واقع شیرپور شهرنو داراي چهار اطاق نشیمن ، گاراژ ، سرباز ، اشپز خانه که تحت تضمین بانك رهني وتعمیراتي میباشد ، حاجي غوث الدین فرزند قطب الدین ماهانه مبلغ یك ملیون ششصد هزار افغاني براي مدت یکسال مجدداقرارداد مینماید.

مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرا بمدیریت کریدت بانك رهني و تعمیراتي واقع سینما پامیر بسپارند وخود شان از تاریخ ٤-٥-١٤٢٢ تا ده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

***

محمد عزیز فرزند محمد یاسین شرکت ترانزیت (ترانس آسیا) افغانستان خواهان انحلال شرکت خویش گردیده است .

اگرسهم داران و ادارات امارتي وخصوصي و اشخاص انفرادي در مورد شرکت مذکور ادعا داشته باشند از تاریخ ٤-٥-١٤٢٢ تا ده روز بریاست ترانزیت بین المللي وزارت تجارت اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

ما از هرات هستیم ..

آنان نیست به هروقت دیگر خیلی آسان وفراوان باز نموده است.

امروز مردم هرات به هیچ وجه حاضر نیستند که این امنیت وتجارت را به قیمت ویرانی شهرشان دوباره برای اسـعـمـیل خان بفروشند ، از جانب دیگر ترقی و پیشرفت این شهر طی پنج سال اخیرنشان میدهد که مسوولین ادارات امارتی درینجا نسبت به هرزمان دیگر و سیعاً توجه داشته و درعمران وبازسازی آن ازهیچ نوع تلاش و مساعی تاکنون دریغ نورزیده اند . اسفالت تمامی جاده ها و پیاده روهای این شهر ، سنگ فرش داخل صحن مسجد جامع تنظیم و میزبانی صدها هزار مهاجردرکمپ های مسلخ و شیدایی ، هکذا ایجاد زمینه کمك رسانی برای آنها اعمار وانکشاف گمرك مرکزی، توقفگاه بزرگ وسایط ترانسپورتی وده هامحراب مسجد جامع طور پخته واساسی درنقاط مختلف این شهر همه گواهی برآنچه میدهند که تااینجا گفته آمدیم .شایان ذکر است که درمقابل ، مردم مسلمان هرا ت نیز از طی پنج سال بدینسو قاطعانه در سنگرحمایت و جانبداری از امارت اسلامی افغانستان قرار داشته ونگذاشته اند که کوچکترین مشکلی طی این مدت درشهر شان ایجاد شود ضمناً گذشت زمان برای آنان فرصت خوب بخشید تا توانستند دوستانشان را از دشمنان به سادگی تفکیك غایند .

البته . از آنجا نیکه هموطنان ما طی این مدت شاهد کوچکترین خشونت و نارضا یتی مردم این شهر درقبال امارت اسلامی افغانستان نبوده اند ، این امر حقیقتاً پشتیبانی صادقانه مردم هرات را نسبت به امارت اسلامی درکشور خو بتر به اثبات رسانیده و نفوذ کاذبانه اسمعیل خان را بالای مردم هرات آنچنانیکه همه روزه مطبوعات مغرض بین المللی بخصوص رادیو صدای مشهد دور از حقیقت تبلیغ مینماید کلاً رد میکند حالا دیگرتورن اسمعیل مردم هرات آن اسمعیل خان دوران جهاد نبوده ومردم روشن ضمیر این شهر یقیناً به این امر پی برده اند که یگانه هدف تحرکات پوشالی اخیر وی به همکاری مستقیم دولت ایران درمنطقه جز بدنام ساختن مردم هرات درنزد طالبان چیزی بیش نیست . مهربان

دمحکمو محصولونه ..

دامارتی بیی او محصول په سلوکی دپنځوسو دکمبنت او دحقوقو دتحصیل دځرنګوالی دقانون د اتمی مادی په څلورمه فقره کی دتعدیل په اړوند دافغانستان داسلامی امارت دمقام فرمان په دغو دریومادوکی صادر شویدی لومړی ماده په محکموکی امارتی بیه اومحصول چی له وثیقو او له نورو سندونو څخه همدا اوس دتعرفی له مخی اخیستل کیږی په سلوکی پنځوس باید کم شی اوله دی وروسته داوسنی بیی اومحصول په اخیستلوکی په سلوکی پنځوس کم اخیستل کیږی دویمه ماده دحقوقو دتحصیل دځرنګوالی دقانون داتمی مادی څلورمه فقره دی درسمی جریدی د ۱۴۲۰ هجری قمری کال دربیع الآخر دمیاشتی د ۲۲ نیټی په ۷۸۶ ګڼه کی خپره شویده په لاندی ډول باید تعدیل شي دحقوقو اداره دی له تحصیل شویو پیسو څخه په سلوکی پنځه دمحصول په نامه له مدیون څخه واخلی اودرسمی تعرفی په واسطه دی دامارت د وارداتو په ۶۰۰ حساب تحویل کړی دریمه ماده دغه فرمان دتوشیح له نیټی څخه نافذ دی او په رسمی جریده کی دی خپور شی .

دهرات والی ...

ولایت په اړوند وکمپونوکي د میشتیو مهاجرینو دستونزو او مشکلاتو په باب خبری اتری وشوی او وروسته پداسی حال کی چی دملګرو ملتو دسازمان دیونیسف داداری دښه نیت سفیره میرمن کوریانا ګی له محترم خیرخواه سره ملګری وه په هغه مطبوعاتی کنفرانس کی چی په اسلامی باغ کی جوړ شوی و ګډون وکړ او دخبر یالانو او دیو نیسف داداری دهیأت دتلو یزیونی ټیم پوښتنو ته یی ځواب ووایه په دی مطبوعاتی کنفرانس کی محترم خیرخواه دهرات په ولایت کی دډاډمن امنیتی حالت دبیا نو لو او دکوکنارو دکرکیلی دبندولو په اړوند دعالیقدر امیرالمؤمنین دفرمان دبشپړ تطبیق دبیانو لو په ترڅ کی له مهاجرینو او په تیره بیا دبی ځایه شویو کسانو له ماشومانو سره دبشپړ دوستانه مرستو د

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید .

پراختیا په ضرورت باندی ټینګار وکړ دغه راز میرمن کوریاناګی دباختر داطلاعاتی آژانس دخبریال پوښتنی ته دځواب په ترڅ کی دافغانستان په خلکو او په تیره بیا په ماشومانو باندی دملګرو ملتو دسازمان دامنیت شورا دبندیزونو دناوړو پایلو په اړوند ووېل موږ ماشومان له دغه شان مسألوڅخه مستثنا بولو او په هرراز شرایطوکی له هغوی سره مرسته کوو .

نودفیصد ...

وساختمانی شاروالی کابل دررهنمایی قوانین نافذه امارت اسلامی غرض ایجاد مساجد کار فعالیت های خویش را به پیش برده که از آن جمله میتوان از جغل اندازی ، ترمیم و داغگیری سرکهای عمده اسفلت شهرکابل ، ترمیم جویچه ها ، ترمیم پارك ها ،ترمیم تحکیم سواحل دریای کابل ، ترمیم تعمیرات مربوطه شاروالی ،ترمیم گلدان های سرکهای عمده شهر ، ترمیمات باغها و تفریحگاه های عمومی ، ساختمان پیاده رو ها و ساختمان پلچك و کانال ها را نام بردکه از آن جمله تحکیم سواحل دریای کابل و گلدان های سرك سالنگ وات ومکروریان به مسیر گمرك کابل نو دفیصد تکمیل گردیده است .

شایان ذکر است که درتهیه مواد برای پروژه های متذکره شرکت خوشی لوگر لمتد سهم فعال گرفته که انشاالله کار بعدی این پروژه ها عنقریب تکمیل خواهد شد . حمیدالله .

مؤسسه خیریه ...

الفیلان ناظم موسسه خیریه الحرمین درکابل به خبرنگار ما اظهار داشته افزود:

مادر نظر داریم تا در قدم نخست به ارزش یك ملیون روپیه پاکستانی ادویه و ٤ تا ٦ لك روپیه پاکستانی سامان طبی برای ۲۰کلینیك و شفاخانه درکابل کمك کنیم بعداً برنامه توزیع مواد غذایی مابرای مهاجرین ولایات بغلان ، هرات ولوگر شروع میگردد که ارزش مجموعی این مواد ۷۰ تا ۸۰هزار دالر رادربردارد موصوف علاوه داشت : حفرچاه های عمیق که یك روز بعدکار آن آغاز میگردد شامل مناطق بغلان ، هرات ولوگر میشود ودرین برنامه تقریباً ۲۵ هزار دالر امریکایی تخصیص داده شده است.

په ځرخي پله محبس ..

کړی داداری ترڅنګری او پراخ پروګرام لاندی برابر شویدی ورمه ورځ په رسمی توګه دلیک لوست دزده کړی داداری دلوی رئیس محترم مولوی محمد اسحق حقیقی لخوا پداسی حال کی چی دځرخی پله دمرکزی محبس قوماندان محترم ملامحمد حسن اخنداو دښوونی او روزنی مسؤلین حاضرو پرانستل شول په دغو کورسونوکی نږدی اوه سوه نوي تنه بندیا ن شامل دی چی دلوست چاری بی ددغی اداری دځه دپاسه دیرشو تنو استادانو لخوا پرمخ بیول کیږی دځرخی پله دمحبس بوټن مسوول محترم میراجان اوریاځیل وایی په اوس وخت کی دځرخی پله دمحبس بندیانوته دښوونی او روزنی ټولی اسانتیا وی برابری شویدی لکه څرنګه چی دوی ټول په دینی کورسونو کی چی دامربالمعروف او نهی عن المنکر پوهنی اوحج او اوقافو وزارتونو په همکاری جوړ شویدی په دینی او اسلامی زده کړو بوخت دی دتیرو کلونو په پرتله دبندیانو روغتیا یی حالت او اعاشه او اباته هم ښه ده او ټول روغتیایی خدمتونه یی دځرخی پله دروغتیا یی کلینیک له لاری ترسره کیږی دمحبس داوبو رسولو او بریښنا رسولو سیستمونه فعال دی او بندیان له ټولو ضروری اسانتیا وڅخه برخمن دی

دلوګر په التمور ...

ویجاړشوید دلوګر له ولایت نه دباختر اطلاعاتی آژانس خبریال خبر راکړ دهغو سیلاونو له امله ورمه شپه داورښتونو په نتیجه کی دلوګر ولایت دالتمور په سیموکی راووتل دکرنی په سلګونو جریبه ځکمه داستوګنی سل کورونه او په دغو سیموکی دپنځلسو کیلو مترو په اوږدوالی سړک ویجاړشویدی خو لله الحمد دسرزیان پی ندی اړولی ددغو سیلاونو دراوتلو په نتیجه کی ددغو سیمو داوبو رسولو سیستم چی دډاکار موسسی لخوا دنلونو دغزولو په سیستم جوړشوی وهم په بشپړه توګه ویجاړ او ددغو سیمو دکار یزونو او ونډونو داوبورسولوسیستم هم ګډوډ شویدی دلوګر ولایت مرستیال محترم مولوی محمد سرور حق پرست پداسی حال کی چی ددغه ولایت دبیلابیلو اړوندو اداروچاروا کی ورسره و سیلاوځپلی سیمی وکتلی او دلوګر ولایت له سیلاو ځپلو سره یی دنړیوالوخیریه موسسو دبیړنیو مرستو غوښتنه وکړه .

په پاکستان اوهند کی اورښت او سیلابونو لو یه تباهی جوړه کړه

په دی پیښه کی په پاکستان کی دوه سوه او په هندکی په سلګونو تنه مړه شویدی

اسلام آباد :

دپاکستان په ځینو سیموکی دسختو او ربښتو له امله چی پرون پیل شویدی تراوسه دوه سوه تنه مړه اوځه دپاسه دری سوه تنه نورټپیان شویدی .

دمرستی رسولو دلو دپیښی په لومړیو ساعتونو کی دزیاتمن شویو مرستی ته وروداننګل خود لاری د ترلو او دباران دسخت او ربښت له امله دمرستی عملیات کرارکرارپرمخ ځی .

دبوبل خبر له مخی داسلام آباد ځینی واپونه هم اوبو لاندی کړیدی دپاکستان رادیو وویل چی ددوشنبی په ورځ په اسلام آباد کی یوازی په پنځلسو ساعتونوکی نږدی شپږ سوه شل ملیمتره اورښت شویدی چی دغه باران په وروستیو سلو کلونو کی بیساری دی . دبوبل

خبرله مخې دهند په اوریسه ایا لت کی له [illegible] او ربښتونو او دسیلاونو ... وروسته چی د هغو له امله په سلګونو تنه ووژل شول او په سلګونو زرخلک زیانمن شول اوس ... دځینو خبرونه ... چی په زرګونو تنه په ساړی ... شویدی هندی مقامات په اوریسه کی حالات خطرناک بللی دی .

سه حمله وحشیانه صهیونستان ناکام گردید

منابع خبری بین المللی - شریعت:

حملات وحشیانه صهیونستان درسرزمین های اشغالی هنوزهم ادامه دارد ، درحمله شب گذشته اشغالگران به یکی از شهرک های فلسطین واقع درنزدیکی شهر جنین درساحل غربی رودار دن یک فلسطینی ۲۸ ساله به شهادت رسیده ، گفته میشود سه حمله وحشیانه دیگرصهیونستان در دوشب گذشته به ناکامی مواجه گردیده است.

جنایات سربازان امریکایی درجاپان مورد بحث قرار گرفت

منابع خبری بین المللی - شریعت:

کولن پاول بعدازمذاکرات با صدراعظم جاپان طی یک کنفرانس خبری گفت:

امریکا حاضراست کاهش نیروهای خویش را در جاپان موردبررسی قرار دهد .

صدراعظم جاپان دراین مذاکرات خواهان کنترول بیشتر سربازان امریکایی درجزیره اوکیناوا شده بود ، نظامیان امریکایی باارتکاب جرم وجنایت دراوکیناوا باعث خشم وغضب مردم جاپان بخصوص آن جزیره شده اند .

خانم میگاواتی سکارنو پوتری جانشین عبدالرحمن وحید انتخاب گردید

منابع خبری بین المللی - شریعت:

میگاواتی سکارنو پوتری جانشین عبدالرحمن وحید انتخاب گردید و بااعلان انتخاب نامبرده اوضاع در جاگارتا پایتخت اندونیزیاآرام گزارش داده شده است سکارنو پوتری درنخستین روزکارش بحیث رئیس جمهور بارئیس پولیس اندونیزیا دیدارو دربارهٔ برقراری نظم و دسپلین با او مذاکره کرد .

مخالفین دعام ولس....

په دننه او بهرکی داسلامی امارت په ملاتړ کی دی دباختراطلاعاتی آژانس خبر راکړ.

احمد شاه مسعود دغه پیژندل شوی او پلورل شوی ځیری خپلو قوماندانانو ته لارښوونه کړیده چی ددغه شان افرادو ټولی شتمنی ضبط کړی او خاوند ان یې بندیان کړی دغی لارښوونی دپروان اوکاپیسا داړوند و سیمو دقوماندانانو د زیاتی لوټما ری او شوکماری زمینی برابری کړیدی او ان ددغو سیمو ډیغواوسیدونکو دوستان اوخپلو ان چی ایران او یا نورو هیوادونوته تللی دی په دی ظالمانه اقدام کی شامل دی .

خبر زیاتوی تراوسه پوری دلسګونو او ان دسلګو نو کورنیو غیری له هغو ا... سره دقومی ارتباط په نامه چی داسلامی امارت په دفاع کی دی اویا بهر ته تللی دی نیول شوی او شتمنی بی ضبط شویدی .

داسلامی امارت دمخالفینو دغه عمل ددغو سیمو دخلکو ژوره کرکه او نفرت راپا رولی اوخلک داسلامی امارت دمخالفینو دبیخی له منځه تللو په هیله دی .

دبلخي مخابراتي ...

اطلاعاتی آژانس خبریال دیوه مسئول خبرځای له خولی خبرراکړ دبغلان ولایت دمخابراتو ریاست دبی سیم په دستګاه او په پستی خدمتو نو برسیره په دی وروستیو کی یوه ریلی دستګاه هم فعاله کړیده چی دمرکز او دسمنګانو بلخ او کندز ولایتو نو ترمنځ یی اړیکی تأمین کړیدی چی له دی پلوه اسلامی امارت ته زیاته ګټه رسیږی.

سیمینار اموزشي...

آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد دراین سیمینار که پانزده روز قبل در تالار سیمینار های ریاست کار وامور اجتماعی دایرگردیده بود ۹۰ نفر از ماموررین ریاست مذکور شرکت داشته و دربخش امور تفتیش وامور اجتماعی تحت آموزش قرار گرفتند سیمینار متذکره دیروز با اخذ امتحان که از جریان آن محترم مولوی عبدالغیاث قایم رئیس عمومی کار وامور اجتماعی دیدن نمود خاتمه پذیرفت .

[illegible] ...

بی ځایه شویدی دافغان مهاجرو پرخلاف د قهر او غضب جرګولو دغه راز حملی لو ړی ... شویدی خود غه وروستی ... ترټولو سختی ګڼل کیږی ...

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chi...
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Ghulam. M. Farooq